


ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه
اباديّ
هفته نامه آبادی

گڼـــه: ۳۰ | مسلسل نمبر: ۷۲
شنبه، د جمادي الأول ۷مه، ۱۴۴٦ هـ . ق کال

## اســـلامي امارت د سوداګرۍ د ودې په موخه د ســـوداګريزو بندرونو عصري کول او د زېربناوو پراختيا يې په خپلو لومړيتوبونو کې نيولې ده




۲ صفحه

## امارت اســـلامی در بخش ساخت شاهراه‌ها گام های ملموس برداشته است



۳ مه صفحه

## د انـــرژۍ، اوبو مـــديريت، زېربنـــا او تـــرانسپورټ سکټورونو کې د اسلامي امارت هڅو ته ځغلنده کتنه




۳ مه صفحه




افغانســـتان يو له هغو هېوادونو څخه دی چې اشغال، جګړو او ناخوالو ســـخت ځپلـــی دی. په جګړو کې يې ډېـــرى زېربناوې له منځه تللـــې دي. د دې برخو بېرته رغـــول د حکومتونو چاره ده، خو پـــه تير کې چې کوم حکومتونه په افغانستان کې واک ته رسېدلي دي، دې برخو ته يې پاملرنه نه ده کړې او نه يې سر پرې ګرځولی دی. همـــدا لامل و چې د افغانســـتان زياتره زېربناوې هماغسې ورانې ويجاړې پاتې شوې. د اسلامي امارت په راتګ سره د اقتصادي چارو د ودې ترڅنګ زېربنا او د زيربنايي پروژو عملي کېدو ته پام اوښـــتی او په دې برخـــه کې تر دې مهاله زيات پرمختګونه شـــوي دي. زېربنايي پروژې د يوه هېواد په پرمختګ او هېوادوالو ته د کاري فرصتونو برابرولو په برخه کې زيات اهميت لري. هغه هېوادونـــه چې غواړي پرمختګ وکـــړي، تر ټولو لومړی بايد د خپل هېواد هغه برخې ورغوي، کومې چې کـــولای شي د هېواد په اقتصادي وده او پرمختګ کې رغنـــده رول لري. پرته له دې نه خـــو هېواد پرمختګ کولای شي او نه هم په هېواد کې د خلکو له پاره د کار زمينه برابرېدی شي. د پروژو او تاسيساتو بيارغونه د نظام مسووليت دی. نظامونه د ملتونو او ولسونو خدمت خپل مسؤليت بولي او غواړي د نړۍ د نورو ملتونو په څير يې ولســـونه د پرمختګ لوړو پوړيو ته ورســـېږي. د ژوند له ســـتونزو لرې وي او په ارامه فضا کې خپل ژوند ته دوام ورکړي. اسلامي امارت هم هڅه کوي چې په هره برخه کـــې د بېلا بېلو پروژو په عملي کېدو سره دې موخې ته ورســـېږي. دې موخې ته د رســـېدو له پاره په چارو کې چټکتيـــا او روڼتيا ته اړتيا وه، نو لـــه همدې امله يې د اميرالمؤمنين شـــيخ الحديث مولوي هبة الله اخوندزاده حفظه اللـــه تعالی له فرمان سره ســـم د ملي تدارکاتو کمېســـيون د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ رامنځته کړ. د ملي تدارکاتو کمېسيون له جوړېدو بيا تر دې مهاله  د شاوخوا ۸۰ ميليـــاردو افغانيو په ارزښـــت ۲۹۰ بېلا بېلې پروژې منظورې شوې دي. دغه پروژې د زېربنا، کليو پراختيا، ترانســـپورټ، روغتيا، برېښـــنا، اوبـــو مديريت، کرنې، مخابراتو او يو شمېر نورو سکټورونو کې دي. دا پروژې د هېـــواد په بېلا بېلو ولايتونو کې پلې شـــوې او يا د پلي کېدو په حال کې دي. دا هغه ســـکټورونه دي چې په پرمختـــګ سره يې د هېواد ترقي حتمي ده. همدا لامل دی چې اسلامي امارت دې برخې ته خپل پام ور اړولی او په يادو سکټورونو کې يې ګڼې بنسټيزې پروژې پيل کړې دي. دغه پروژې  د ملي تدارکاتو کمېســـيون له لوري منظورې شـــوې او اړوندو ادارو ته د پلي کېدو په موخه سپارل شوې دي. په ټوله کې که چېرې په هېواد کې ترسره شويو او د ترسره کېدو په حال کې فعاليتونو ته ځير شو؛ نو راته جوته به شي چې اسلامي امارت خپلې وينا ته د عمل جامه ور اغوستې ده او هېواد به ډېر ژر د يوه پرمختللي او پر خپلو پښو ولاړ اقتصاد څښتن شي.

# اسلامي امارت د سوداګرۍ د ودې په موخه د سوداګریزو بندرونو عصري کول او د زېربناوو پراختیا یې په خپلو لومړیتوبونو کې نیولې ده



په ننني نړۍ کې د هېوادونو پر اقتصادي پرمختګ او د ټولنې په هوساینه کې سوداګري، پیر او پلور مهم رول لري. اسلامي امارت د سوداګرۍ اهمیت ته په کتو دې برخې ته پوره پاملرنه کړې ده. هڅه یې داده چې خپله سوداګري زیاته کړي. د پراخې سوداګرۍ په لور حرکت د سوداګرۍ یوه واحد سیستم رامنځ ته کولو، په دې برخه کې د شته موانعو لیرې کولو او د ګمرکي تعرفې کمولو ته اړتیا لري.

اسلامي امارت په دې برخه کې خپلې هڅې ګړندۍ کړې دي. د دې هڅو ښکاره بېلګه د صادراتو په کچه کې زیاتوالی دی. سره له دې چې لا هم د سوداګرۍ د کسر کچه لوړه ده خو د سوداګرۍ په برخه کې د شته کسر د له منځه وړلو په موخه کره او دقیق پلانونه چمتو شوي او د سوداګرۍ سکټور د پیاوړتیا په خاطر زېربناوې چې مهمه برخه یې د سوداګریزو بندرونو پراختیا او په عصري وسایلو سمبالول دي، د رغولو په حال کې دي. د هېواد په ۱۲ ګمرکونو کې د الکترونیکي سکنرونو نصبول د ګمرکونو د عصري کېدو ښه بېلګه ده.

د ځمکنیو سوداګریزو بندرونو شتون د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخه کې زیات اهمیت لري. افغانستان د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره د خپلو سوداګریزو بندرونو له لارې خپله سوداګري ترسره کوي او له دې لارې غواړي خپله سوداګري پراخه کړي.

د افغانستان مهم او فعال سوداګریز بندرونه تورغونډۍ، اسلام کلا، زرنج، سپین بولدک، غلام خان، تورخم، آقینه، حیرتان او شیرخان دي. اوسمهال دا بندرونه فعال او په ورځني ډول په زرګونو ټنه صادراتي او وارداتي توکي انتقالېږي. له همدې بندرونو څخه په شفاف او د برېښنایي سیستم پر مټ په ورځني ډول میلیونونه افغانۍ عواید را ټولېږي چې دې خپله د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې رغنده رول لوبولی دی.







ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
ابادي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی

# امارت اسلامی در بخش ساخت شاهراه‌ها گام های ملموس برداشته است


امارت اسلامی کار اعمار و بازسازی برخی از شاهراه های مهم کشور، سرک ها، پل و پلچک ها را آغاز کرده است. برخی از این پروژه‌ها تکمیل و بر برخی دیگری از آنها هنوز هم کار جریان دارد. کار بازسازی شاهراه کابل – قندهار تقریباً تکمیل گردیده است. کار اساسی بازسازی سرک ۸۰ کیلومتر شاهراه سالنگ‌ها در سه لات آغاز شده و به سرعت جریان دارد. کار



بازسازی ۱۳ کیلومتر، بخش اول سرک ۱۰۸ کیلومتری قندهار – ارزگان جریـان دارد. کارهای اصلی سـاختمانی لین دوم سرک کابل – غزنی و لین دوم سرک کابل – جلال آباد عملاً آغاز گردیده است.

در کنار شاهراه ها، کار عملی ساخت و بازسازی شماری جاده های مهم دیگر در شـهر های کابل، هـرات، جلال آباد و مزارشریف، معروف ـ ارغستان ولایت قندهار، فرخار - ورسج، گردیز - زرمت، قوش تیپه - درزاب و کنر – نورستان نیز جریان دارد. از میان این سرک‌ها، سرک فرخار – ورسج به طول ۱۵ کیلومتر و پل سرشیله نیمروز به طول ۳۰۰ متر تکمیل گردیده است. در این پروژه‌ها به هزاران هموطن به‌صورت مستقیم و غیرمســتقیم زمینه کار مساعد شده اسـت. بر اساس حکم عالیقـدر امیرالمؤمنین شـیخ صاحب حفظه اللـه در امتداد شاهـراه‌ها ۷۵ مسجد نیز اعمار می شود که کار عملی ۵ باب مسجد در مسیر شاهراه کابل- قندهار آغاز گردیده است.

# د انـرژۍ ، اوبو مـدیریت، زېربنـا او تـرانسپورټ سکټورونو کې د اسلامي امارت هڅو ته ځغلنده کتنه



انرژي، د اوبو مدیریت، زېربنا او ترانسپورټ هغه سکټورونه دي چې کولای شي د هېواد صنعت، کرنه او سـوداګري پراخه کړي. اسلامي امارت همدې اهمیت ته په کتو دې سکټورونو ته لومړیتوب ورکړی دی. اسلامي امارت د روان ۱۴۰۳ لمریز کال په جریان کې د انرژۍ په سـکټور کې یو شمېر پروژې پیل کړې دي. دا پروژې په ځانګړې ډول د لمریزې انرژۍ او له ګاز څخه د برېښنا د تولید په برخو کې دي. د انرژۍ تولید د افغانسـتان لپاره مهم دي، ځکه دا هېواد د انرژۍ له اړخه پر نورو هېوادونو متکي دی. د دغو پروژو له لارې اسـلامي امارت هڅه کوي چې د انرژۍ په برخه کې کورنۍ اړتیا پوره او اقتصادي وده ګړندۍ کړي.

**د ۱۴۰۳ لمریز کال په جریان کې د انرژۍ په سکټور کې پیل شوې پروژې:**

| شمېره | پروژه | د پرانیستي نېټه |
|---|---|---|
| ۱ | د کابل ارغندی سب‌سټېشن پراختیا | ۱۴۰۳/۴/۷ |
| ۲ | ۲۲،۷۵ میګاواټه لمریزه برېښنا | ۱۴۰۳/۷/۱۷ |
| ۳ | د طوطي میدان ګازو استخراج | ۱۴۰۳/۷/۱۹ |
| ۴ | د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې پیل | ۱۴۰۳/۶/۲۱ |



د اوبـو مدیریت او کرنیزو ځمکو لـه پاره د اوبو برابرول د اسلامي امارت په لومړیتوبونو کې دي او په دې برخه کې یې کوټلي ګامونه اخیستي دي. اسلامي امارت د هېواد په کچه د هغو لویو او متوسطو بندونو ارزونه ترسره کړې چې کارونه یې نیمګړي یا هم نه و پیل شوي. د یادو بندونو د چارو بشـپړولو لپاره جامع کاري پلانونه جوړ شوي چې له مخې یې د روان لمریز کال پـه جریان کې په هرات کې پاشدان بند، په پکتیکا کې د پلتوني بند، په ارزګان کې د اغاجان بندونو عملي چـارې پیل او په زابل کې د عمري بند ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.



**د ۱۴۰۳ لمریز کال په جریان کې د اوبو مدیریت په سکتور کې پیل شوې پروژې:**

| شمېره | پروژه | د پرانیستې نېټه |
|---|---|---|
| ۱ | پاشدان بند | ۱۴۰۳/۲/۹ |
| ۲ | پلتوني بند | ۱۴۰۳/۵/۳۰ |
| ۳ | اغاجان بند | ۱۴۰۳/۷/۷ |

زیربناوې د افغانستان د اقتصادي ودې او پراختیا لپاره یو مهم عنصر دی. اسلامي امارت د زیربناوو په برخه کې د پانګونې لپاره هڅې ګړندۍ کړې دي. اسلامي امارت د قوانینو او کړنلارو په وضع‌کولو، د مالیاتو په کمېدو، له خصوصي سکتور سره د ګډې همکارۍ او سرتاسري امنیت په ټینګولو د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کړی. اسلامي امارت پر شته زیربناوو بیاکتنه کړې او د نویو زیربناوو د جوړولو په برخه کې یې عملاً کار پیل کړی. دغه راز یې د زیربناوو په برخه کې پانګونې ته تر بل هر وخت ښه زمینه برابره کړې ده.

**د ۱۴۰۳ لمریز کال په جریان کې د زیربنا په سکتور کې پیل شوې پروژې:**

| شمېره | پروژه | د پرانیستې نېټه |
|---|---|---|
| ۱ | نیله باغ هستوګنیزه پروژه | ۱۴۰۳/۱/۱۹ |
| ۲ | په کابل نړیوال هوايي ډګر کې معیاري انتظارخونه | ۱۴۰۳/۵/۴ |
| ۳ | په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د الکترونیکي سکنرونو نصب | ۱۴۰۳/۵/۶ |


د ترانسپورټ سکتور، د هېواد په اقتصادي وده کې د یو بنسټیز سکتور په توګه پرېکنده رول لري او پر مټ یې دا برخه پراختیا موندلی شي. د دې لید پر بنسټ، اسلامي امارت ترانسپورټ سکتور په خپلو لومړیتونو کې نیولی دی. اغېزناک، خوندي او معیاري ترانسپورټي خدمتونو وړاندې کول، له ګاوندیو او سیمې هېوادونو سره د ترانسپورټي اړیکو پیاوړتیا، د شفاف او حساب ورکوونکو سیستمونو رامنځته کول، خصوصي پانګونې ته زمینه برابرول، د عامه ترانسپورټ زیربناوو پراختیا، په اداري جوړښت او په دې سکتور کې بنسټیزو اصلاحاتو ته زمینه برابرول یې د کارونو په سر کې ځای لري.

**د ۱۴۰۳ لمریز کال په جریان کې د ترانسپورټ په سکتور کې پیل شوې پروژې:**

| شمېره | پروژه | د پرانیستې نېټه |
|---|---|---|
| ۱ | د خواف - هرات اوسپني پټلی د ځلورمې قطعې دوهمه برخه | ۱۴۰۳/۱/۹ |
| ۲ | د خیرخانې کوتل سړک دوهم لاټ | ۱۴۰۳/۲/۸ |
| ۳ | له شهید څلورلارې تر قصبې پورې د غځېدلې سړک لومړۍ برخه | ۱۴۰۳/۲/۸ |
| ۴ | د هوايي ډګر له څلورلارې بیا تر ګمرک پورې غځېدلی سړک | ۱۴۰۳/۲/۸ |
| ۵ | د هرات - غور سړک | ۱۴۰۳/۲/۱۰ |
| ٦ | مس عینک پروژې ته غځېدلی سړک | ۱۴۰۳/۵/۳ |
| ۷ | د کابل - غزني دوهم لین سړک | ۱۴۰۳/٦/۲۰ |
| ۸ | د کابل - جلال اباد دوهم لین سړک | ۱۴۰۳/۸/۵ |

د دې پروژو په بشپړېدو سره به افغانستان د انرژۍ، کرنې، سوداګرۍ، صنعت او دې ته ورته نورو برخو کې پرمختګ وکړي. دغه راز به د پروژو په جریان او د یادو پروژو تر بشپړېدو وروسته لسګونو زره هېوادوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.

## THE ISLAMIC EMIRATE HAS INITIATED THE EXPLORATION AND EXTRACTION OF 21 LARGE-SCALE MINES.



### 1 Iron

- Blocks 1, 2, 3, and 4 of the Iron Mine in Ghoriyan District, Herat Province
- Iron Mine in Pashtun Zarghun District, Herat Province



### 2 Lead and Zinc

Blocks 1, 2, and 3 of the Lead and Zinc Mine in Tulak District, Ghor Province



### 3 Gold

- Samti Gold Mine in Chah Ab District, Takhar Province
- Qara-i-Zaghan Gold Mine in Doshi District, Baghlan Province



### 4 Ruby

Ruby Mine in Jagdalak Area, Kabul Province



### 5 Chromite

Blocks 1, 2, and 4 of the Chromite Mine in Kohi Safi District, Parwan Province



### 6 Cement

Jabal Saraj District, Parwan Province; Zendeh Jan District, Herat Province; and Shorandam Area, Kandahar Province: Cement Mineral Mines




### 7 Barite

Barite Mine in Chahar Olang Area, Rabat Sangi District, Herat Province



### 8 Coal

Masjid Chobi Coal Mine in Karkh District, Herat Province and Nayak Area Coal Mine in Obeh District, Herat Province



## SINCE ITS ESTABLISHMENT, THE NATIONAL PROCUREMENT COMMISSION HAS APPROVED 290 DIFFERENT PROJECTS WITH A TOTAL VALUE OF AROUND 80 BILLION AFGHANIS.

### SECTORS

- Infrastructure
- Rural Development
- Transport
- Health
- Electricity



- Water Management
- Agriculture
- Telecommunications
- And other areas
  where projects have also been approved and are now underway.

- **Total Budget:** Approximately 80 billion Afghanis
- **Total Number of Projects:** 290 projects



- **Funding Source:** Islamic Emirate of Afghanistan
- **Project Implementation Locations:** Various provinces



## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابــل په شهزاده سـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۶۸,۰۰؋ | ۶۸,۰۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۳٤؋ | ۲۳٤؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۲۳؋ | ۱,۲۳؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۷۲,۸۶؋ | ۷۲,۹۱؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۷۰؋ | ۰,۷۰؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۸۰٦؋ | ۸۰٦؋ |
| ۱ | انگلیسي پونډ | ۸۷,۸۱؋ | ۸۷,۸۸؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۸,۱۰؋ | ۱۸,۱۲؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۵۱؋ | ۱۸,۵۳؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,٤٦؋ | ۹,٤۷؋ |

